د افغانستان د بادامو د صنعت
د پرمختیا اداره

+93(0) 799-758-977
Afghan.almond@gmail.com

په افغانستان کې د اصلي ډوله ونو د یو سیټم منځ ته راوستل

د افغانستان د بادامو تولیدوونکي او پلورونکي غواړي چې د ښونو حاصلات یې لوړ شي او په نړیوالو بازارونو کې ښه سیالي وکړي.

په داسي حال کې چې د ځینو ګلارو وړاندیز شوی او په بوزغلیو کې ترې کاراخستل کیږي، دا صنعت کولای شي د «اصلي ډوله» ونو د «تصدیق» د یو سیټم را منځ ته کولو موضوع د بوزغلیو لپاره هم په پام کې ونیسي.

سره له دې چې اوس د افغانستان د بادامو صنعت د بشپړ او رښتوني سیټم – لکه څګه چې په کالیفورنیا کې ترګټه اخستل کیږي - د کار د اخستلو د وړتیا څخه برخمن نه دی، کولای چې د دفترداری د « ساتلو زنځیر» لرونکي سیټم را منځ ته کړو. وروسته به د «ساتلو زنځیر» د یوې ملي اداري یا دولت له خوا «تصدیق» شي. دا د تصدیق د یو رښتوني سیټم موخو ته د رسیدو په لوري یو مهګام دی.

په هغې کې به شامل پراوونه په لاندي توګه وي:

1. د دې په اړه د اسنادو چمتو کول چې مورني ساقي قلمي د تصدیق شویو مورنیو ونو PHDP ل د باغداری د انکشاف پروژه څخه دي.
2. د مورنی ساقي وزې په څرګنده توګه د سوداګریزې ټې او یا ارزګ یا د فلزي زنګو (لیبل) په واسطه پیژندل کیږي.
3. د پیوند د وخت یو د احصایي مواد په هغو بوزغلیو کې ساتل کیږي چې د تکثیر لپاره ورڅخه پیوند اخستل کیږي.
4. د غټی لرونکو څاګو اندي پهښکاره توګه د لیبل په واسطه په ښه کیږي ترڅو یې په پیژندو کې شك پیدا نه شي.
5. هره پیوند شوې لیکه په څرګند ډول د شمیري اوقلمي د مورنی ساقي د ډول په واسطه په ښه کیږي.
6. په بوزغلیو کې د پیوند لیکلي احصایه او د بوزغلي نقشه ساتل کیږي.
7. نیاګې مخکې له ویستلو څخه تاکل شوې رنګ سره سم د هر ډول یا نوعي په پام کې نیولو سره په ښه کیږي.
8. نیاګې د ویستلو پرمهال رنګ ا ډول ته په پام کولو سره په درجو او ډلو ویشل کیږي او لیبل پرې ګول کیږي.

ټولې لیکلي احصایې باید د ۵ کلونو لپاره وساتل شي ترڅو د ساتلو په زنځیر کې د تکثیریدونکو مورنیو ونو PHDP څخه بیا تر هغو نیاګیو پورې چې پلورل کیږي، په څرګند ډول یې پلټنه ترسره شي. د تولید ګلارې او د دفترداری کړنلارې باید هرکال (یا دوه کاله) وپټل شي.

ددې لپاره چې هر بوزغلی د «اصلي ډول» د جواز او تصدیق څخه برخمن شي، باید دا ګلارې رعایت کړي.

د جان ډرایور، کورکي لوین او مارك په واسطه چمتو شوی، د ۱۳۸۷ کب میاشت

دا خپرونه د اروپایي اتحادیي، د نړوالی د پرمختیا پروګرام، د بادامو د صنعت د پرمختیا د پروژې په مالي مرسته، د سولې بنسټ د مؤسسې د ASIE/2007/135-504 قرار داد لاندې چمتو شوې. کابلټیلفون 794677212 (0) 93+، zach@rootsofpeace.org
ددې خپرونې د محتوې مسؤلیت په بشپړه توګه د کالیفورنیا د ډیوس پوهنتون په غاړه دی او په هیڅ صورت سره د اروپایي اتحادیي د نظر څرګندونه نه ده.
د خپریدو حق © UC Regents Davis campus، 2009 میلادي ټول حقوق خوندي دي.

د ډیرو معلوماتو لپاره د: www.ip.ucdavis.edu, http://ec.europa.eu/europeaid/index_en.htm, www.rootsofpeace.org مراجعه وشي